د افغانستان اسلامي جمهوریت جمهوری اســـلامی افغانـستان
دټولـکټو وزارت - وزارت فـواید عامـه
Islamic Republic of Afghanistan
Ministry of Public Works
رسنيز دفتر
دفتر مطبوعات
شنبه، د چنگاښ ۱۲ مه، ۱٤۰۰ کال/ شپږمه گڼه - لومړی پاڼه
لار اونیزه - هفته نامه راه



ټولگټو وزارت د سیمه ییز نښلون په برخه کې د جلالتمآب ولسمشر ډاکټر محمد اشرف غني لیدلوری په جدیت سره تعقیبوي تر څو افغانستان د سیمه ییز نښلون په مرکز بدل او له دې لارې د هیواد عایداتي او ستراتیژیک ارزښت لوړ شي.

# د کندهار - سپین بولدک د دویم لاټ سړک چارې ۷۵ سلنه پرمختگ لري

د کندهار - سپین بولدک دویم لاټ سړک ۳۹ کیلومتره اوږدوالی او ۱۱,۲ متره پلنوالی لري، چې اوس مهال یې رغنیزې چارې له ۷۵ سلنه کاري پرمختگ سره دوام لري. د یاد سړک په اوږدو کې د ٢٤ او ۱۸۰ مترو په اوږدوالی سره دوه پایې پُلونه، ٦٦ پایې پُلگوټي او ۷ معبرونه هم شامل دي. د کندهار سپین بولدک سړک، رغنیزې چارې د ټولگټو وزارت او یوه خصوصي ودانیز شرکت ترمنځ تړون شوي، چې مالي لگښت یې د هیواد له پراختیایي بودیجې څخه ورکول کیږي. د سړک دا پروژه د افغانستان حکومت د مهمو پروژو له ډلې څخه ده، چې سویل لوېدیځ ولایتونه د چمن په سیمه کې له ډیورنډ فرضي کرښې سره نښلوي او د افغانستان او پاکستان تر منځ د سوداگرۍ او ټرانزیټ په پیاوړتیا کې مهم رول لري. د دې پروژې د رغنیز کار په بهیر کې د سیمې اوسېدونکو ته کاري فرصتونه رامنځته شوي، چې د چارو له بشپړېدو سره به یې نه یوازې افغانستان له پاکستان سره ونښلي تر څنگ به یې د ټولنیزو چوپړتیاو ( ښوونیزو، روغتیايي او ښاري خدمتونو ته ) د خلکو لاس رسی اسانه شي د یادوني وړ ده، چې د سړک دا پروژه ټولټال ۷۹,٦ کیلومتره اوږدوالی لري، چې د دویم لین لومړی لاټ یې د ٤۰ کیلومترو په اوږدوالي سره مخکي گټي اخیستني ته سپارل شوی دی



## کار اعمار و ساختمان بیشتر از ۱۱ کیلومتر سرک کانکریتی در ولایت کاپیسا آغاز شد

این سرک کانکریتی با ساختمان های آبرو آن به طول ۱۱ کیلومتر و به شمول ٤ پایه پلچک، به قیمت بیشتر از ۸۹ میلیون افغانی میان وزارت فوایدعامه و ۱۰ شورای انکشافی محلی ولایت کاپیسا قرارداد گردیده است. اعمار و ساختمان این پروژه از خواست های مردم آن‌ولایت بوده است که بر علاوه ساختمان سرک، ٦٦٣۰٥ روز کاری ایجاد نموده است و با تکمیل شدن ٤٥٦۰۰ تن به شکل مستقیم و غیر مستقیم از آن مستفید می شوند. این پروژه قریه جات قول بابر، خمیردان، گدو چشمه، چشمه تلخ، ده بلبل، نو آباد، چهاراهی منگل و ملك محمد شیرین به شهر محمود راقی ولایت کاپیسا وصل می سازد که دسترسی مردم را به مراکز صحی، تعلیمی و تحصیلی آسانتر ساخته و در انتقال محصولات زراعتی و حیوانی به مارکیت های تجارتی نقش مهم و اساسی دارد



## په خوست کې د یوه پایه پُل رغنیزې چارې ۷۲ سلنه کاري پرمختگ لري

دا اوسپنز کانکریټي پُل، چې ٨٤ متره اوږدوالی لري، د خوست ولایت د دوه مانده ولسوالۍ په خوب خیل کلي کې د ټولگټو وزارت له لوري جوړیږي، چې اوس مهال یې د جوړلو کار له ۷۲ سلنه کاري پرمختگ سره دوام لري.

د پُل دا پروژه، د ټولگټو وزارت له لوري له یوه خصوصي ودانیز شرکت سره تړون شوي، چې مالي لگښت یې د هیواد له پراختیایي بودیجې څخه ورکول کیږي.

د دې پله د کار له بشپړېدو سره به د خوست ولایت د دوه مانده ولسوالۍ د گڼو کلیو د اوسېدونکو د تگ راتگ ستونزې د پخوا په پرتله هوارې او د ولسوالۍ مرکز ته به یې لاسرسی اسانه شي



## وزیر فوایدعامه با والی و نمایندگان کندهار دیدار نمود

وزارت فوایدعامه همواره تلاش می نماید تا بخش حفظ و مراقبت سرک ها همیشه فعال باشد که از تخریب اندک سرک ها جلوگیری شده و باعث تخریبات بیشتر نگردد، به همین اساس ریاست فواید عامه ولایت پکتیا مشکلات بوجود آمده شاهراه پکتیا - خوست را حل نموده و این مسیر مهم را حفظ و مراقبت کرده است.

ریاست متذکره، از مرکز گردیز الی پل ولسوالی سید خیل خوست که حدود ۷۰ کیلومتر می شود، با امکانات و ماشینری در دست داشته خویش؛ ضمن ترمیم اساسی شانه های تخریب شده سرک، پاک کاری پلچک ها، آبروها و بقایای مواد سیلابی را تکمیل نموده است تا هموطنان عزیز بتوانند به سهولت از این مسیر رفت و آمد نمایند.



لار اونیزه - هفته نامه راه

لار جوړونه ثواب، خو ورانولي يې ګناه او عذاب دی.



# د دوشي - باميانو د لومړۍ برخې سړک د جوړلو چارې ٤٦ سلنه کاري پرمختګ لري



د دوشي - باميانو سړک، ټولټال ۱۵۲ کيلومتره اوږدوالی لري، چې د بغلان ولايت له دوشي او تاله و برفک ولسواليو څخه پيل او د باميانو ولايت د کوهمرد، سيغان او شيبر ولسواليو پورې غځيدلی. د سړک دا پروژه، په اوو برخو ويشل شوي چې لومړۍ، دويمه، دريمه او څلورم الف برخې يې په بغلان ولايت کې او څلورم ب، پنځمه او شپږمه برخه يې په باميانو ولايت کې موقعيت لري. د دوشي - باميانو سړک لومړۍ برخه، ٢٤ کيلومتره اوږدوالی او ۷ متره پلنوالی لري، چې د بغلان ولايت د دوشي ولسوالۍ له باغ ملا شاه کلي څخه پيل او د دې ولسوالۍ تر شاليزار کلي پورې رسيږي، چې اوس مهال يې رغنيزې چارې له ٤٦,٨ سلنه کاري پرمختګ سره دوام لري. د سړک د دغه برخې په اوږدو کې، ۸ پايې پلونه، ۱۵۳ پايې پُلګوټي، ۱۷۳۸ متره کانکريټي استنادي ديوال، ۳٤٦۲۳ متره معکب ډبرين استنادي ديوال او ۱٤۳۰ متره د سړک غاړې لښتي هم شامل دي. دا پروژه د ټولګټو وزارت او يوه خصوصي ودانيز شرکت تر منځ تړون شوي، چې ټول مالي لګښت يې د نړۍوال بانک له لوري ورکول کيږي. د دوشي - باميانو سړک، د هيواد د پلازمينې، شمالي ولايتونو او مرکزي آسيا هيوادونو ترمنځ د سوداګريزو توکو په ليږ - راليږد کې له ځانګړي او ستراتيژيک ارزښت څخه برخمن دی، همدارنګه د سالنګ لويې لارې مناسب بديل هم ګڼل کيږي، چې د سالنګ د لويې لارې د جوړولو او د طبعي پيښو له کبله د بنديدو په صورت کې به له دغه مسير څخه د تګ - راتګ په موخه ګټه واخيستل شي. د سړک دا مسير د خپل ستراتيژيک اهميت ترڅنګ، د باغ ملاشاه، ګزار، کنده سنګ، پل کنده سنګ، رباط، سرخک بينی، دهن کيان، لوختوغی و شاليزار کليو پر وصل سربيره په سيمه ييز نښلون کې هم مرسته کوي



## اعمار سرک در ولسوالی لعل سرجنگل ولایت غور ۵۱ فیصد پیشرفت کاری دارد

این سرک جغلی ۱۰ کیلومتر طول دارد، از قریه سرتکه غال ولسوالی لعل سرجنگل ولایت غور آغاز الی پل دهن تکه غال امتداد می یابد که تاکنون ٥۱ فیصد پیشرفت کاری دارد.

پروژه متذکره میان وزارت فوایدعامه و دو شورای انکشاف محلی قرارداد شده است و از سوی حکومت افغانستان تمویل می شود. با تکمیل شدن کار این سرک مشکلات ترانسپورتی باشندگان قریه جات متذکره حل شده و منطقه سرجنگل را به مرکز ولسوالی و بلاخره به شهر چغچران مرکز ولایت غور وصل می نماید.

وزارت فوایدعامه همواره تلاش می نماید تا با تطبیق پروژه های انکشافی مناطق دور افتاده را با مرکز ولسوالی ها و ولایات وصل نموده و سهولت های ترانسپورتی را به مردم مهیا نماید.



## ساختمان سرک ولسوالی دره صوف - معدن شباشک ولایت سمنگان به شدت جریان دارد

این سرک از بازار سوخته ولسوالی دره صوف بالا آغاز الی معدن شباشک ولایت سمنگان ادامه میابد؛ دارای ۱۹٤. ۳۷ کیلومتر طول و ۱۰ متر عرض دارد.

در مسیر این سرک، دو پایه پل به طول مجموعی ۸۰ متر، ۱۱۲ پایه پلچک به سایز های مختلف و ٥٦ معبر به طول ٦٤۰۰ متر می باشد. پروژه متذکره میان وزارت فوایدعامه و یکی از شرکت ساختمانی خصوصی قرارداد شده و از سوی حکومت افغانستان تمویل می شود.

اعمار و ساختمان سرک مذکور باعث ایجاد فرصت های کاری برای شماری از باشندگان مسیر سرک شده است که با تکمیل شده آن در رشد اقتصادی (استخراج معادن)، تسهیل در ارایه خدمات اجتماعی (صحت، معارف)، توسعهٔ شهری و بهبود وضعیت محیط زیست رول مهم دارد.

لار اونیزه - هفته نامه راه
لاره اونیزه هفته نامه



ټولګټو وزارت د سیمه ییز نښلون په برخه کې د جلالتمآب ولسمشر ډاکټر محمد اشرف غني لیدلوري په جدیت سره تعقیبوي تر څو افغانستان د سیمه ییز نښلون په مرکز بدل او له دې لارې د هیواد عایداتي او ستراتیژیک ارزښت لوړ شي.

## د نورستان له مرکز تر کامدیش ولسوالۍ پورې د جغلي سړک رغنیزې چارې ٦٥ سلنه پرمختګ لري

د ټولګټو وزارت لخوا په لومړي ځل د نورستان کامدیش او برګمټال ولسوالۍ د سړک په مرسته له مرکز پارون سره نښلي. یادو ولسوالیو ته نوی جوړېدونکی جغلي سړک چې ۲۵,۸ کیلومتره اوږدوالی لري، د پارون اړوند له ایشتیوي کلي څخه پیل او د کامدیش ولسوالۍ پورې غځیږي، چې اوس مهال یې رغنیزې چارې له ٦٥ سلنه کاري پرمختګ سره رواني دي. د جغلي سړک د رغیدا دا پروژه، د ټولګټو وزارت او سیمه ییزو پراختیایي شوراګانو ترمنځ تړون شوي، چې مالي لګښت یې د هېواد له پراختیایي بودیجې څخه ورکول کېږي. د یاد سړک د رغنیز کار په بهیر کې د سیمې اوسېدونکو ته ګڼې کاري ورځې هم رامنځته شوي، چې د چارو له بشپړېدو سره به یې، د نورستان کامدیش او برګمټال ولسوالۍ د نورستان له مرکز پارون ښار سره ونښلي. لکه څنګه چې د نورستان ډېری سیمې غرنۍ دي او خلک یې د تګ ـ راتګ په برخه کې له ګڼو ستونزو سره مخ دي، د دې ستونزو د هوارۍ په پار ټولګټو وزارت هڅه کوي چې د اسفالټ یا پخو سړکونو تر څنګ د جغلي سړکونو په رغونه کې هم یاد ولایت ته پاملرنه زیاته کړي، چې ورسته به یې له پلان سره سم په پاخه او اساسي ډول سره نور کارونه هم وشي



## کار اعمار و ساختمان سرک کانکریتی در ولسوالی حصه دوم کاپیسا ۹۷ فیصد پیشرفت کاری دارد

این سرک کانکریتی به طول ۲,٦ کیلومتر در قریه چهار آسیاب ولسوالی حصه دوم ولایت کاپیسا اعمار و ساختمان می گردد و تاکنون ۹۷ فیصد پیشرفت کاری دارد که در آینده نزدیک تکمیل و به بهره برداری سپرده می شود.

این پروژه میان وزارت فواید عامه و شورای محلی آن‌ولسوالی قرارداد گردیده است و از سوی حکومت افغانستان تمویل می شود.

در جریان اعمار و ساختمان این پروژه بطور مستقیم و غیر مستقیم برای باشندگان محل فرصت های کاری ایجاد شده است، با تکمیل شدن کار این پروژه مشکلات رفت و آمد باشندگان قریه چهار آسیاب و قریه جات همجوار حل می شود.



## د کابل په ده سبز ولسوالۍ کې ۵,۸ کیلومتره سړک رغنیزې چارې ۵۰ سلنه پرمختګ لري

دا اسفالټي سړک، د ټولګټو وزارت له لوري د ۵,۸ کیلومتره په اوږدوالي سره د کابل ولایت د ده سبز ولسوالۍ له خواجه چاشت دوه لارې څخه پیل او د الله ګل مجاهد تر مدرسې پورې غځیدلی چې تر دې مهاله یې رغنیز کار څه باندې ۵۰ سلنه بشپړ شوی. د سړک دا پروژه د څه باندې ۸۳ میلیون افغانیو په ارزښت، د ټولګټو وزارت او یوه خصوصي ودانیز شرکت تر منځ لاس لیک شوی، چې مالي لګښت یې د هېواد له ملي بودیجې څخه ورکول کېږي. د دې پروژې د رغنیز کار له بشپړېدو سره به د ده سبز ولسوالۍ د اوسېدونکو ټرانسپورټي ستونزې تر پخوا کمې او د تګ راتګ په برخه کې به ګڼې اسانتیاوې رامنځته شي، همدارنګه د یادې پروژې د رغنیز کار له بشپړېدو سره د ده سبز ولسوالۍ اوسېدونکو ته په مستقیم او غیر مستقیم ډول ۱٤۲۰ کاري ورځې هم رامنځته شي



## سرک کنر – نورستان مطابق دیزاین اعمار و ساختمان می شود

وزارت فوایدعامه متعهد است، در تمام نقاط افغانستان پروژه ها را مطابق شرطنامه و قرارداد به شکل معیاری اعمار و ساختمان نماید. وزارت فوایدعامه گزارش نشر شده آژانس خبری پژواک را رد می نماید که گفته است سرک سرک کنر – نورستان به ضخامت کم اعمار می شود، این گزارش به اساس معلومات بی بنیاد، بدون دیدگاه این وزارت، یک‌طرفه و خلاف اصول ژورنالیزم نشر شده است. نورستان سومین پارک ملی افغانستان، وزارت فوایدعامه نتنها سرک آن ولایت را به شکل اساسی اعمار می نماید، بلکه بخاطر اهمیت بازدید سیاحان از سومین پارک ملی؛ عرض سرک را از ٦ متر به ۷ متر افزایش داده است و ضخامت قیر (آسفالت) مطابق قرارداد ۹ سانتی متر میباشد. دو بخش سرک کنر – نورستان اکنون تحت کار است که بیشتر از ۲۱ کیلومتر طول دارد، بخش اول آن ۵۳ فیصد پیشرفت کاری دارد و در روز های نزدیک کار آسفالیت ریزی آن آغاز می شود. قابل ذکر است، دیزاین ٦۲ کیلومتر متباقی سرک کنر – نورستان تکمیل شده است و جهت طی مراحل تدارکاتی به اداره تدارکات ملی فرستاده شده است.



## مخالفین مسلح در ولایت کندز یک پایه پُل و دو پایه پلچک را تخریب کردند

در حالی‌که وزارت فواید عامه، در تمام ولایات افغانستان پروژه های بیشتر سرک سازی تحت کار دارد، مخالفین مسلح با تخریب سرک‌ها، پل‌ها و پلچک‌ها خسارات زیادی را به زیربنا این کشور وارد می نمایند. در دو روز گذشته مخالفین مسلح دولت در ولسوالی امام صاحب ولایت کندز، یک پایه پُل و دو پایه پلچک را با جا سازی مواد انفجاری تخریب کردند و مسیر رفت و آمد را بروی مردم مسدود نمودند. تخریب یک پایه پل و دو پایه پلچک مشکلات اجتماعی، اقتصادی و قطع ارتباط مناطق را در آن‌ولایت ببار آورده است که ترمیم و یا اعمار مجدد آن‌ها نزدیک به ۷ میلیون افغانی هزینه بر می دارد. کارمندان وزارت فواید عامه به دلیل جنگ و ناامنی به ساحه‌ی که تخریبات صورت گرفته است، سفر کرده نمی توانند تا کار ترمیم را آغاز نمایند.



لار اونیزه - هفته نامه راه
لاراه اونیزه هفته نامه

سړکونه د ولسونو ترمنځ د اتصال کړۍ
او د اقتصادي ودې بنسټیزه سرچینه ده.



## د پروان له توپ درې تر خواجه سیاران پورې د سړک چارې ٦٧ سلنه پرمختګ لري




دا اسفالتي سړک چې ٤،٤٩ کیلومتره اوږدوالی لري، د پروان ولایت له توپ درې تر خواجه سیاران علیا او صوفیان بالا سیمې پورې غځېدلی چې اوس مهال یې د رغونې کار له ٦٧ سلنه کاري پرمختګ سره دوام لري. د سړک دا پروژه د ټولګټو وزارت له لوري له یوه خصوصي ودانیز شرکت سره تړون شوي، چې مالي لګښت یې د هیواد له پراختیایي بودیجې څخه ورکول کیږي.

د دې پروژې د رغنیز کار په بهیر کې د سیمې اوسېدونکو ته په مستقیم او غیر مستقیم ډول ۲۱۰۰ کاري ورځې رامنځته کیږي او د کار له بشپړېدو سره به یې شاوخوا ۵ کلي له یوبل سره ونښلول شي او خلک به یې له پاخه سړک څخه برخمن شي.

## تخریب یک پایه پُلچک و قسمتی از سرک با ماین جا سازی شده در نزدیک دروازه میدان شهر

دشمنان آبادی افغانستان، صبح امروز در منطقه کوچی‌ها گذشته از ارغندی، نزدیک دروازه میدان شهر در مسیر شاهراه کابل- کندهار، یک پایه پُلچک و قسمتی از سرک را با ماین جا سازی شده تخریب نمودند.

شاهراه کابل - کندهار یکی از شاهراه مهم کشور است که روزانه صدها موتر از این مسیر رفت و آمد می نمایند و کابل با ولایات جنوب و جنوب غرب وصل می نماید. با تخریب این پلچک در مسیر شاهراه کابل- کندهار، یک خط بروی ترافیک مسدود شده است. اما؛ خط دیگر آن برای ترافیک باز است و وسایط می توانند دو طرفه رفت و آمد نمایند.



## دایکندی: کار اعمار و ساختمان سرک رباط - میرامور ۵۷ فیصد پیشرفت کاری دارد

این سرک از بازار رباط ولسوالی میرامور آغاز الی منطقه اسیپلان این ولسوالی امتداد می یابد، دارای ۱۲،۱۴۲ کیلومتر طول، ٦ متر عرض و طرف دو متر پیاده رو دارد.

این پروژه میان وزارت فوایدعامه و یکی از شرکت های ساختمانی خصوصی قرارداد شده است، تاکنون ۵۷ فیصد پیشرفت کاری دارد و از سوی حکومت افغانستان تمویل می شود.

در جریان اعمار و ساختمان پروژه متذکره، برای شماری از باشندگان محل فرصت های کاری ایجاد شده است.

با تکمیل شدن این سرک، مشکلات ترانسپورتی باشندگان ولسوالی میرامور ولایت دایکندی حل خواهند شد و نیز باعث رشد و توسعهٔ زراعت و تجارت باشندگان ولایت دایکندی می شود. وزارت فوایدعامه با توجه به انکشاف متوازن، برعلاوه ساختمان سرک‌های اسفالتی در آن ولایت، شماری از سرک‌های کانکریتی و جغلی را نیز تحت اعمار دارد که با تکمیل شدن آن‌ها سهولت های ترانسپورتی به مردم مهیا می شود.



## د بدخشان په یفتل بالا ولسوالۍ کې د ۱۰ کیلومتره سړک رغنیزې چارې په بشپړېدو دي

دا جغلي سړک چې ۱۰،۵٤ کیلومتره اوږدوالی لري، د ټولګټو وزارت له لوري د بدخشان ولایت د یفتل بالا ولسوالۍ له سمچان درې څخه تر لنګر کلي پورې جوړیږي. چې اوس مهال یې رغنیز کار ۹۷ سلنه پرمختګ لري او د پاته کار له بشپړېدو ورسته به ګټې اخیستنې ته و سپارل شي.

د سړک دا پروژه د ټولګټو وزارت او اوو سیمه ییزو پراختیایي شوراګانو ترمنځ تړون شوي وه. چې مالي لګښت یې د هیواد له ملي بودیجې څخه ورکول کیږي.

د یاد سړک د رغنیز کار په بهیر کې د سیمې اوسېدونکو ته ګټې کاري ورځې رامنځته شوي، چې اوس مهال به یې د چارو له بشپړېدو سره د یفتل بالا ولسوالۍ د نارونډ، سمچان، چکولچ او پیشتیک کلیو په ګډون د د سړک اړوند کلیو اوسېدونکو ته ټرانسپورټي اسانتیاوې رامنځته شي.



## کار سروی تخنیکي سرک های داخل شهر پل علم آغاز شد

پس از شکایت ساکنان پل علم مرکز ولایت لوگر از خرابی سرک های داخل شهر، وزارت فواید عامه تصمیم گرفت که سروی آن را آغاز نموده و با تکمیل شدن مراحل سروې و دیزاین این سرک ها کار عملي آنرا به زود ترین فرصت آغاز نماید. این سرکها مجموعاً ۱،٤ کیلو متر طول دارد و در هر دو طرف برای رفت و آمد به طور اساسی ساختمان میگردد، که به زیبایی شهر و حل مشکلات شهروندان کمک خواهد کرد.



لار اونیزه - هفته نامه راه

لار اونیزه
هفته نامه



ټولګټو وزارت د سیمه ییز نښلون په برخه کې د جلالتمآب ولسمشر ډاکټر محمد اشرف غني لیدلوری په جدیت سره تعقیبوي تر څو افغانستان د سیمه ییز نښلون په مرکز بدل او له دې لارې د هیواد عایداتي او ستراتیژیک ارزښت لوړ شي.

## ټولګټو وزیر د سړک جوړونې په برخه کې د ولسي جرګې د ځینو غړو غوښتنې واورېدې

د ټولګټو وزیر انجنیر نجیب الله یمین په خپل کاري دفتر کې د هلمند، بدخشان او کوچیانو حوزې د استازو هغه وړاندیزونه واورېدل چې د سړکونو د جوړېدو په برخه کې یې درلودل.

د هلمند د خلکو استازي عبدالرشید عزیزي د ټولګټو له ښاغلي وزیر څخه مننه وکړه، چې د مرکز لښکرګاه او موسی قلعه ولسوالۍ د سړکونو د سروې چارې یې د یوه تخنیکي ټیم په لېږلو سره بشپړې کړې دي. همدا رنګه د کوچیانو حوزې استازو ننګیالي لونګ او رسول خان کوچي د غزني د مرکز اړوند پښتون آباد او د کابل د بګرامي ولسوالۍ اړوند کوچي آباد کلي د سړک رغېدو غوښتنه وکړه.

د هغوی د غوښتنې په مقابل کې د ټولګټو وزیر ژمنه وکړه چې له پلان سره سم او د امکاناتو په تر لاسه کولو سره به د یادو سړکونه رغونه هم پیل کړي.



## کار سروی تخنیکي سرک های داخل شهر پل علم آغاز شد

پس از شکایت ساکنان پل علم مرکز ولایت لوگر از خرابی سرک های داخل شهر، وزارت فواید عامه تصمیم گرفت که سروی آن را آغاز نموده و با تکمیل شدن مراحل سروې و دیزاین این سرک ها کار عملي آنرا به زود ترین فرصت آغاز نماید.

این سرکها مجموعاً ۱,٤ کیلو متر طول دارد و در هر دو طرف برای رفت و آمد به طور اساسی ساختمان میگردد، که به زیبایی شهر و حل مشکلات شهروندان کمک خواهد کرد.



## د هیواد د آبادۍ دښمنانو په پکتیکا کې یو پُل او یو پلګوټی نړولي

د ګران هیواد د آبادۍ دښمنانو په پکتیکا ولایت کې تېره شپه د ښرنې - انګور هډې پر سړک چې یو ټرانزیټي مسیر دی یو پل او یو پلګوټی په بمونو الوزولي. نړول شوی پل د سر روضې ولسوالۍ په پړاو کلي او پلګوټی د ارګون ولسوالۍ په شاطورو سیمه کې په بمونو الوزول شوي چې خلکو ته یې ګڼې ستونزې جوړې کړې دي.

یاد پل د ٦۰ متره اوږدوالي په درلودلو سره په دریو وایو کې جوړ شوی چې یوه وایه یې په بشپړه توګه ورانه شوې او پر بیا رغونه به یې شاوخوا ٤٥ میلیونونه افغانۍ لګښت راشي.

د هیواد د آبادۍ دښمنانو په روانه اونۍ کې یو پل او دوه پلګوټي د کندوز په امام صاحب ولسوالۍ کې یو پلګوټی د میدان ښار - کابل او یو پلګوټی د کابل - لوګر پر مسیر هم په بمونو الوزولي دي.



# جریان کار و ساختمان سرک ها و پُل ها در نقاط مختلف افغانستان به روایت تصویر











